وهمچنان شماراامت وسطي ساختيم تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

٤ صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

مجاهدين قهرمان طي عمليات وسيعي مراكز نظامي دشمن را در مركزكابل موردحمله قراردادند

كابل :

افغان نيوزايجنسي طي يك گزارش به اداره روزنامه شهادت خبرميدهد كه مجاهدين مومن ودلير ولايت كابل ازتاريخ ٢٨ الي ٣٠ ميزان سالجاري مراكز نظامي دشمن رادردارالامان ، ميدان هوائي خواجه رواش ، پلچرخي ، قرغه وميروبس ميدان شديدا مورد حمله راكتي شان قرارداده وخسارات زيادي رابه دشمن وارد آورده اند .

خبرمي افزايد كه مجاهدين دليرما ذخيره هاي مهمات نظامي رادردارالامان ، ميدان هوائي خواجه رواش ، قواي پانزده زرهدار واقع پلچرخي ، مواضع نظامي فرقه هشت واقع قرغه وهمچنان يك ديپوي بزرگ رادرميرويس ميدان شهركابل مورد هدف قرارداده وبه آتش كشيده اند .

قرارگزارش مجاهدين مومن مابتاريخ ٣٠ ميزان سالجاري دفتروزيردفاع راواقع دارالامان هدف راكت هاي سكرقراردادند كه درنتيجه قسمت زيادي ازپرسونل نظامي دشمن هلاك وبارك هاي عسكري شان تخريب گرديده است .

به همين ترتيب مجاهدين بروز ٢٨ ميزان قواي پانزده زرهدار واقع پلچرخي وفرقه هشت قرغه راهدف راكت هاي دوربرد شان قرارداده اندكه درنتيجه يك ديپوي مهمات درقرغه طعمه حريق شده ودرقواي پانزده زرهدار يك ديپوي

ص٤

الهي فرمان

اي مومنانو له الله نه ووېرېږي اوسمه خبره كوي الله به ستاسي عملونه سم كړي اوستاسي له گناهونوځخه به درتيرشي هرڅوك چي دالله اودهغه درسول اطاعت وكړي هغه به لوي برياليتوب ترلاسه كړي .

(الاحزاب ٧٠ - ٧١)

شماره مسلسل (٣٩٤) سال چهاردهم ،شماره (٩٠)سه شنبه (٧)عقرب ١٣٧٠ هـ .ش- (٢١)ربيع الثاني ١٤١٢ هـ.ق- (٢٩)اكتوبر ١٩٩١م

روسي واكمن مسكوته دمجاهدينودهيئات دسفريه ارتباط وايي :

دحزب اسلامي اوجمعيت اسلامي له گډون پرته به خبري گټه ونلري

٤مخ

دگرديز په جنوبي محاذكي دكمونيست رژيم يوه لويه قواپه شاوتمبول شوه

پكتيا - دلړم ٥ مه :

دپكتيا ولايت پرمياليو غازيانو دتومورږي ولايت په بېلا بېلو سيموكي دكمونستي رژيم پراميتي مركزونو گمپونكي بريدونه ترسره كړي اوكمونستي قواوو ته ئي دځان اومال درانده تاوانونه اړولي، ميد بادتومورږي ولايت دجنوبي محاذ ديوه قوماندان په حواله خبروركوي چي دروان كال دلړم دمياشتي په ٥ مه نيټه كفري قواووچي غوښتل ئي دگرديز شارجنوبي محاذونه تربريدلاندي ونيسي دمجاهدينو دگمپونكو بريدونه سره مخامخ شوي چي په نتيجه كي دگوډاكي رژيم گڼ شمير پلويان مړه ياټپيان شوي اوقواشاتگ ته مجبوره شوه .

خبرځاي ليكي چي دمجاهدينو پدي بريالي بريدكي دكابل رژيم دوژل شووكسانو سربيره ديوه لوړرتبه جنرال مړي دمجاهدينو په سيمه كي په ځاي پاتي شو كوم چي دجنگ په محاذ كي دنيول شوو عسكرولخوا پيژندل شوي دي .

خبر ځاي ليكي مجاهدينو پدي بريالي بريدكي دري ډغروال ټانكونه يوه دبي ام ١٤ دستگاه يو بيټرياتوپ او ٤ عرادي نظامي لاري سره له سپرليو له منځه وړي اومجاهدينو ته ځه تاوان ندي رسيدلي ديوه بل خبرله مخي مجاهدينو دتلي دمياشتي په ٣٠ مه نيټه دگرديزښاريه لرختيځ كي دسيدكرم ولسوالي دناصر كنهوپه سيمه كي ديوه راكټي بريديه ترڅ كي دكمونست رژيم يوه پوسته فتح كړي اويه پوره اندازه نظامي مهمات ئي په ولجه نيولي دخبريه ورروستي برخه كي ويل شوي چي دگرديز ښاريه جنوب لويديځ، اوجنوب ختيځ ، سيمه كي دمجاهدينو اوالحادي قواو ترمنځ خونړي جگړه روانه ده اومجاهدينو ته تراوسه ځه تاوان ندي رسيدلي .

يك خاديست مشهور باده نفر مليشه در ولايت لغمان كشته شدند

لغمان - ميديا :

راپورهاي رسيده ازولايت لغمان حاكي ومي نگارد : كه دراثر عمليات موفقانه وپيروزمندانه مجاهدين، به تاريخ ٢٤ميزان ١٣٧٠ درمركزولايت لغمان يك تن ازخاديست هاي مشهوررژيم كابل بنام عبدالمالك همرابا ده تن ازهمكارانش هلاك گرديد .

گزارش مي افزايدكه درين عمليات يك عراده تانك حريق گرديده ودونفر ازبرادران مجاهد نيز جراحات سطحي برداشتند .

دجلال آباد د ښار په شاوخوا پوستو باندي بيا دمجاهدينو تعرضي بريدونه پيل شول

ننگرهار- دلړم ٦ مه :

دننگرهار ولايت مومنو غازيانو دتومورږي ولايت مركزجلال آباد اودهغه شاوخواكمربند" پوستي ترخپلو دوهم ځلي تعرضي بريدونولاندي نيولي اودكمونست رژيم پرمخ ئي ډولي اكمالاتي لاري تړلي . په هغه رپوټ كي چي له تومورږي ولايت څخه ترلاسه شوي ويل كيږي : مجاهدينو دروان كال دلړم دمياشتي په ٦ مه شپه دجلال آباد ښاراودهغه شاوخواامنيتي پوستي ترخپلو تعرضي بريدونولاندي ونيوي اودكابل جلال آباد لويه لاره ئي دماهيپراوورپښمين تنگي په سيمه كي ددولتي قواووپرمخ وتړله .

خبرځاي ليكي چي دمجاهدينو پراخه بريدونه دجلال آباد ښاريه جنوبي سيمه كي درودداتو له ولسوالي سره نږدي دكان قطرغي پركتهو، غلام باگ اوچپرهار په ستراتيژيكوپوستو اودجلال آباد دښار لويديزلورته دسرخرود ولسوالي دشيخ مصري په قرارگاه اونوروشاوخواپوستو باندي په برياليتوب سره دوام لري .

په خبركي ويل شوي چي دعملياتو نه دوي ورڅي مخكي كمونستي جبت الوتكو دحصارشاهي ، فارم غازي آباد، چپرهار فارم ، سرخرود اوخوگياڼو سيمي اولاري ترسختو بمباريولاندي ونيوي چي دحصارشاهي په سيمه كي بې دفاع كليوالو ته ځه ځاني تلفات رسيدلي چي بشپړرپوټ ئي ندي ترلاسه شوي .

خبرزياتوي دشرخيلو، كامي اوشيوي په دريو حوزوكي مخامخ جگړي رواني دي خوتراوسه دمجاهدينو اوكمونستي قواو دمرگ ژوبلي راپور ندي ترلاسه شوي .

غند قومی سوپ خيل همراه با ١٩ پوسته ديگر در امتداد شاهراه كابل -جلال آباد فتح گرديد

كابل - اثا :

به اساس گزارش مسئولين حوزه شهيد شيرمحمد ازولايت كابل ، مجاهدين طي عمليات گسترده شان به تاريخ اول عقرب سال جاري بالاي پوسته هاي مستقر درماهي پر درامتداد شاهراه عمومي كابل جلال آباد غند قومي سوپ خيل راهمراه با ١٩ پوسته ديگر فتح نمودند .

گزارش مي افزايد : درين عمليات ١٦٧ نفرازافرادرژيم كمونست كابل به خاطر مقاومت جاهلانه شان به قتل رسيد ، چهارميل ذيكويك ، ٦ ميل راكت ، ٣ ميل پيكا، ٧ ميل تفنگچه ، ٨٦ ميل كلاشينكوف ، ٤ دستگاه اوراگان ، ٧ عراده تانك و ٢٦ عراده موتررا مجاهدين به غنيمت گرفتند.

گزارش مي افزايد كه تعداد زيادسلاح ثقيله وخفيفه دشمن درجريان زدوخوردتباه گرديد. هم چنان ٦٤ نفرعسكرازمقاومت دربرابرعمليات مجاهدين اباورزيده باسلاح هاي دست داشته شان تسليم مجاهدين شدند .

راپورمي افزايد كه درين عمليات يك تن ازبرداران مجاهد شهيد و٣ نفرديگر جراحات برداشت . شاهراه عمومي كابل - جلال آباد مدت سه يوم بروي ترافيك مسدود بود . درگزارش ازبمباردمان وحشيانه رژيم كابل برمناطق مسكوني وبالاي مجاهدين نيزذكري به عمل آمده است.

انتخابات عمومي درلهستان به پايان رسيد

مردم لهستان درانتخابات عمومي آنكشور راي دادند اين اولين تجربه انتخاباتي واقعا دموكراتيك آنكشور ازدهه ١٩٣٠ به اينطرف است . دراين انتخابات نمايندگان مجلس سفلي وسناي لهستان براي عضويت دريك دوره چهارساله برگزيده مي شوند دراين انتخابات بيش از يكصدحزب سياسي به رقابت پرداخته اند .

خبرنگاران دروارسا ميگويند : نتايج انتخابات لهستان احتمالا به تشكيل يك پارلمان دچار تفرقه ودسته بندي وروي كارآمدن يك دولت ائتلافي منجرخواهدشد .

سنجش آرا عمومي نشان ميدهد كه اتحاديه ديموكراتيك لهستان برهبري مازويفسكي صدراعظم پيشين وابسته به جنبش همبستگي آنكشور ٢٠ فيصد آرا رابدست آورده است كه معادل ٧٦ چوكي درمجلس سفلي ٤٦٠ عضوي است .

مازويفسكي ميگويد : حاضراست روي يك حكومت ائتلافي به قاعده وسيع كه متعهد به اصلاحات باشد مذاكرات را آغاز كند .

سلاح ثقيله رژيم مزدور در دست توانمند مجاهدين سر بكف

انور"حاصل " دررژيم دادعاخلاف په خپل كوركي دمجاهدينو دراكټ نښه شوي دي

پكتيا - ميديا :

دگرديز له ښارڅخه دمجاهدينو دباوري منابعو دخبرله مخي دپكتيا والي اودكمونست گوند دولايتي شورا رئيس محمدانور حاصل چي دكابل رژيم درادبوني اعلان له مخي په گرديز كي دجگړي دلومړيو ليكو مورچوڅخه دليدني كتني په وخت كي دمجاهدينو دراكټونو دلگيدو په اثروژل شوي ، ردكړي اوويلي يې دي چي والي انورحاصل په خپل كوركي دمجاهدينو ديوتوغندي دلگيدو په اثرد ١٣٧٠هـ ش كال دتلي دمياشتي په ٢٩ مه نيټه جهنم ته ليږل شويدي خودپيښي نوروځاني تلفاتو په هكله پوره معلومات تراوسه ندي ترلاسه شوي .

ميديا زياتوي چي په داسي حال كي چي انورحاصل دگوډاگي رژيم د گرديزوالي و دكي جي بي پوفعال غړي هم وچي په همدي منظور په ١٩٩٠ م كال لمړي اوآخره مياشت كي دوه ځلي په پټه دپاكستان لاهور ښارته دخاد جاسوسي شبكي لپاره تللي اوراغلي دي .

دانورحاصل ديو همصنفي له قوله دي دكابل پوهنتون دژورناليزم دپوهنځي څخه فارغ شوي اوله ډير پخواڅخه دپرچم گوند او جاسوسي شبكي غړي و .له نجيب سره ډيرو نږدي اړيكو درلودلو له امله دپكتيا والي وټاكل شو .

خبرزياتوي چي دهلي خوا انورحاصل دكي جي بي په دستور دپكتيا ولايت په پولوكي په قبائلي سيموكي دوسلي اوپيسويه خوړولو اوپمونو ايښودلو لپاره دروسانو په لارښونه ډيري تخريبكاري اوخوشخدمتي كړيدي .

جمهوري تركمنستان استقلال خود را اعلان كرد

٥ر٧ر١٣٧٠ :

راديومسكو ميگويد : بيش از نودفيصد مردم جمهوري تركمنستان شوروي دريك همه پرسي به طرفداري استقلال ازشوروي راي داده اند قراريك خبرديگرپارلمان اين جمهوري قانون جدائي ازشوروي را تصويب كرد همچنان معاهده اتحادبين جمهوريتهاي شوروي تائيد نمود . ازهنگام شكست كودتاي شوروي عليه گورباچوف ١٣ جمهوري آنكشور اعلام استقلال كرده اند فقط جمهوري روسيه فدرالي وقزاقستان تاحال استقلال خودرا اعلان نه كرده اند .

گورباچوف به خيانت دراصول بنيادي ماركسيزم متهم شد

٥ر٨ر١٣٧٠ :

دريك سند محرمانه كه بين مقامات حزب كمونيست چين توزيع شده است گورباچوف به خيانت به اصول بنيادي ماركسيزم متهم شده واخطارشده است كه غرب احتمالا چين رابراي تقويه دام سياسي خودتحت فشار شديدي قرارخواهد داد . درسند حزب كمونيست چين شكست كودتاي ماه اگست شوروي نتيجه دخالت شديد غرب به رهبري امريكا خوانده شده وبه اين سبب محكوم گرديده است . نشريه محرمانه چين ميگويد : كه شكست كمونيزم اصيل دربسياري ازمناطق جهاني ممكن است براي چين شرايط بين المللي نامساعدي بوجود آورد . دراين سندگفته شده است كه اكنون تمامي جهان مراقب اوضاع چين است وگروه كوچكي كه درداخل چين ازدموكراسي شيوه غربي هواداري ميكند ممكن است ، ازفرصت هاي كنوني براي دامن زدن به آتش آشوب درخودچين بهره برداري كنند بسندمحرمانه چين ياد آورنقش ارتش آنكشور درسركوب به گفته آن سند شورش ضدانقلابي ١٩٨٩ چين شده وگفته است كه ارتش چين امروز نيز كاملا آماده سركوب ضدانقلاب است .

دغزي مسلمانانو دمادريد كنفرانس په خلاف مظاهري وكړي

دلړم ٥ نيټه :

دفلسطين مسلمانو انقلابيانو پرون په بيت المقدس كي دهغو دووصهيونستو كورته دري پترولي بمونه وغورځول چي دفلسطينيانو په ضد په عملياتوكي گډو .

خبرزياتوي دغزي دښارمسلمانانو اوسيدونكو پرون دمادريد دتش په نامه امريكائي سولي پرخلاف اعتراض وكړ . دبيروت څخه په يوخبركي ويل شوي چي دفلسطين بيلابيلو پرگنو پرون په داسي حال كي چي دمادريدكنفرانس پرخلاف بي شعارونه وركول په غزه كي دنړيوال سره صليب دوداني په وړاندي مظاهري و كړي . دوغه مظاهري په وخت كي يوه فلسطيني ځوان وويل چي دمادريد كنفرانس دفلسطين دمسلمانانو له پاخون اوشهيدانوله وينې سره خيانت دي .

بنام نظاميكه بر انداره مغربان نهايت ملهم آمد

سرمقاله

كنفرانس صلح شرق ميانه گامي درجهت يك قطبي شدن جهان

مجاهدين مسلمان افغانستان علي الرغم آنكه ازكارزارخونين بايك ابرقدرت جهان (روسيه) ، سرافرازوموفق بدرآمدند وحالاتيز باعوامل واذناب آن مصروف جنگ فرسايشي اند، قضيه فلسطين را بعنوان داعيه امت اسلامي، ازياد نبرده ودركنار اينهمه مصايب دست و گريبان بازهم قلب هاي شان براي آزادي قدس مي تپد. نشريه شهادت باداشتن افتخارترجماني آرمان مجاهدين مسلمان افغانستان در تمام فرازونشيب هاي دوران جهاد روحا دركنارمجاهدين اصيل فلسطيني بوده وبمثابه پشتوانه نيرومند روحي آنهارادرمبارزه عليه امپرياليسم وصهيونيزم ياري داده اند .

بعداز آنكه مجاهدين مسلمان افغان با قرباني هاوفداكاري هاي بي شائبه خويش ، طلسم زوورگوئي روسها را درجهان شكستند، روسيه درميدان رقابت باحريف استعماري اش كم آمد وزمامداران غدارماسكو به بهانه سخافت طرزفكرماركسيزم ورفع مشكلات اقتصادي وسياسي دست وپاگير، حيطه نفوذ خودرا دركشورهاي تحت نفوذ تحديد نمود كه همزمان با آن موج گسترده آزاديخواهي دركشورهاي بلاك كمونيستي اوج گرفت . نسيم آزاديخواهي تنها دركشور هاي تحت نفوذ ماسكو محصور نماند، بلكه بااستشمام رائحه دل انگيزآن مردم تحت ستم كمونيزم حتي درمهدآن (ماسكو) دست بقيام عليه آئين ضدفطري كمونيسم زدندو امروزه امپراطوري هفتاد وچهارساله كمونيزم ديگر توان خودنمائي در عرصه جهان را ازدست داده است . زمينگيرشدن امپراطوري سرخ ازصحنه سياسي جهان ، چراغ سبزي بود براي يكه تازي امريكا تاباتطميع زمامداران روسيه وسركوبي نهضت روزافزون اسلام ، بنام نظام نوين جهان ، عملا سيطره و سيادت خودرا برجهانيان تحميل نمايد .

ازجمله منصوبه هاي عملي امريكا براي رفع كشمكش جهان اسلام با يهود ونصاري يكي هم پروسه برگزاري كنفرانس صلح شرق ميانه است كه ممكن تا دو روز ديگر درمادريد پايتخت هسپانيه دايرگردد . كنفرانس مادريد نتيجه تلاش هاي وزيرخارجه امريكا طي سفرهشت دوره اي جيمز بيكر درشرق ميانه است كه به تعقيب پيروزي امريكا درجنگ خليج ازبرنامه هاي مهم سياست خارجي امريكا محسوب مي شود . تباني امريكا باكشورهاي عربي درسركوبي رژيم عراق درجنگ خليج موجب گرديدكه سوءظن موجودميان اعراب و امريكابخاطر پشتيباني عنعنوي آنكشور ازاسرائيل (دشمن اعراب) زدوده شودو كشورهاي عربي عملا درخدمت اهداف امريكا قراربگيرند .

صفحه (٣)

كسانيكه به تبانی اغيارهوس رسيدن به قدرت را درسرمی پرورانند ، به سرنوشت نجيب مواجه خواهندشد

دمسکو کنفرانس اودمجاهدینو لپاره یي گټه اوزیان

رحماني

تن سبا مسکوته دمجاهدینو دیوه هیئات دتلو په باره کي تاوده تاوده بحثونه روان دي، په هرملي اوبین المللي کنفرانس کي پري خبري کیږي ، په دي هکله مختلفي نظریې اواندي موجودي دي ، څوك دادجهاد په گټه بولي او څوك هم دهغه زیانونه شماري ، لنده داچي لوي لوي کنفرانسونه اومهمې لیدني کتني خولاپریږده چي دافغانستان دستونزي دحل په اړوند دمجاهدینو او روسي واکمنوترمنځ دمسکود خبروپه هکله افکاراونظریات پکي تبادله کیږي، په وړو وړو غوندو، ان چي دغم اوښادي په مجلسو کي هم دغه مسئله دبحث عمده ټکي تشکیلو ي اوهرڅوك خپل نظروړاندي کوي .

پرتوروسربیره دجهادي تنظیمونو دمشرانو ترمنځ ددي ستونزي په اړوند متحداواتفاقي نظرتراوسه نه دي وړاندي شوي ، ځیني مشران دغه خبري اتري په هرصورت دمجاهدینو په گټه بولي اودهیئات له لیږلو سره بشپړه موافقه لري، ځیني بې دځاي (مسکو) سره مخالفت لري، ځیني دغه خبري مفیدي گڼي خودځینو شرایطو سره ، اوبوتیم بې بیاپه هیڅ صورت هم جایزاودانقلاب په گټه نه بولي .

هریو په خپل واراستدلال کوي اودخپل نظردتوجیه لپاره دلایل اومثالونه وړاندي کوي .

که په عمومي توگه غورو‌کړو تودجهادي مشرانو نظرونه په کلي توگه په دریو برخوویشلاي شو :

۱- کاملا موافق ، ۲- کاملا مخالف ، اودریم معتدل اومشروط. دلومړي ډلي استدلال دادي چي دمجاهدینو اوروسي واکمنوترمنځ خبري په حقیقت کي دامعني لري چي روسان مجاهدین دیوقوت په حیث په رسمیت پیژني، نظرته بې اهمیت ورکوي، اوله همدي لاري کیداي شي روسان دېته وهڅول شي چي نورله نجیب اورژیم نه بې تیرشي .

ترټولونه مهمه داچي روسان ددي په ځاي چي دغه ستونزه دامریکاپانو په مشوره اومرسته حل کړي، له امریکاپانو سره دمجاهدینو دوصي اوقیم په حیث وگوري مستقیماً له مجاهدینو سره دجگړي دیوطرف په حیث خبري کوي، په دي شکل کیداي شي دامریکا رول منفي شي . همداراز په واروار دمجاهدینو دگډي شورې له لاري داپریکړي شوي چي مجاهدین حاضر دي دروسانو سره خبري وکړي، یعني داخبره داصولو مخالف هم نه ده .

دوهمه ډله بیا ددي برعکس خپل دلایل داسي څرگندوي اووایي چي له دښمن سره خبري کول دهغوي په کورکي داپه حقیقت کي دماتي معنالري، دوهمه داچي دغه خبري چي دروغي جوړي په منظوروي نو بوازي د "څه واخله اوڅه راکړه " په فورمول برپالي کیداي شي او پرته له دي څه مفهوم نه لري،که مجاهدین په همدغه منظوربه خبروکي برخه اخلي نوداداسلام له نقطه نظره روانه ده اودازموږ د۱٤ کالو هلي ځلي په اوبو وړي .

دریمه ډله ددي خبروسره نه کاملا مخالفه ده اونه بې بې قیده وشرطه مني ، بلکي دروسانوسره په خبروکي دگډون لپاره شرطونه وړاندي کوي، اودهمدي شرطونو په نظرکي نیولوسره له روسانوسره دجهادي تنظیمونو دخبروملاتړ اوپلوي دي، اودمجاهدینو په گټه بې بولي اوکنه نه بوازي داسلامي انقلاب په گټه نه دي چي دماتي مهرپري وي . ددریمي ډلي شرطونه دادي چي :

دمجاهدینو دهیئات اوروسي واکمنو ترمنځ د غوندي ځاي باید مسکونه بلکي دریمگري هیوادوتاکل شي ځکه دجگړي په جریان کي ددښمن کورته وړتگ دعذر غوښتلو او کمزوري معنالري .

*دخبرواترواصلي اجندا باید معلومه اواعلان شي ترڅومجاهدین دموضوع په ارتباط مشخص موقف اوآمادگي ونیسي ، داجنداپه نه اعلانیدوسره نه بوازي بحث اوخبري نتیجه نه ورکوي چي دمجاهدینو دپه دام کي دگیرکولو هڅه ښکاري .

روسان باید ددي اوږدي اوزموږ پرملت باندي دتپل شوي جگړي خساره زموږ ملت ته ورکړي، ددي لپاره بوبین المللي هیئات وټاکل شي چي وارده شوي خساره وټاکي، ځکه چي روسان پرافغانستان باندیبرغل پخپله هم اشتباه اوغلطي بولي نوباید دخپلي غلطي جبران وکړي .

څه قراردادونه چي د ۱۳۵۷ څخه وروسته دروسانو، دهغوي دالحادي هیوادونه اوپانوروهیوادو اوکابل رژیم ترمنځ لاسلیك شوي ، ټول باید لغو اوکان لم یکن وبلل شي . ځکه چي دکمونستانو حکومت قانوني نه بلکي پوتپل شوي حکومت واوډتپل شوي حکومت هیڅ وعده هم قانوني بڼه نشي غوره کولاي .

روسان باید نجیب اوله تیله بې چي پرموږ باندي‌یې تپلي، له قدرت نه گوښه کړي، پرېږدي چي زموږملت خپلي چاري پخپله سمبال کړي ، دنجیب په رژیم وسلي اونور کمکونه ودروي .

ددي لپاره چي دغه خبري برپالي شي نوبکاره، چي مجاهدین ټول روسي بندیان اوروسان دمجاهدینو هغه بندیان چي له روسانو اودهغه دلاسپوڅي رژیم سره دي یوځاي آزادکړي .

که خبري ددي شرایطو په نظرکي نیولو سره اوباپه همدي مسایلو باندي ترسره کیږي بې شکه چي دمجاهدینو په گټه دي، خصوصاً چي دمجاهدینو له خوابوباصلاحیته هیئات پکي برخه واخلي، داسي چي خبره بې موثره اوروسانوته دمنلو وړوي. اوکه فرضا دخبرو اجندا معلومه نه وي دهیئات ترکیب معلوم نه وي، روسان په دي خیال وي چي دجنگي بندیانو په سرخبري کیږي ، نه بوازي داچي گټه*پري مرتبه نه ده چي دمجاهدینو په شکست باندي مهرلگول دي .

اوس چي دځینو خبرونوله مخي ، تن سبا مسکوته دمجاهدینو هیئات روان دي، خوداخبره څرگنده شوي نه ده چي دغه

او اوس دمسکو په لور

قریب الله سعید — لمړي برخه

پنجشنبي په ورځ دعقرب په دوهمه په اسلام آبادکي اعلان وشوچي دمجاهدینو یوهیئت په دروان عیسوي کال دنومبر دمیاشتي په دریمه ورځ دمسکو په لور سفروکړي اوهلته به دروس دواکدارانو سره دافغانستان دمسئلي دسیاسي حل په هکله په تفصیل سره خبري وکړي داهیئت به هلته تریوي اوني پوري تم کیږي .

په روسیې کي دسپیني کودتانه اوبیا هلته دکمونیزم دزاړه نظام دانحلال او دپخوانیو سرسختواوافراطي کمونستانو دله منځه تللو وروسته داسي امیدکیده چي گواکي روسي زمامداران به په کابل کي دلاس پوڅي رژیم څخه داسي لاس واخلي لکه څنگه ئي چي په کیوباکي دفیدل کاسترودنظام څخه واخست . اما برعکس پرته دیو څو ورځودموادو دترسیل له توقف څخه روسي واکدارانو لکه دپخواپه څیر خپلو کومکونو ته دوام ورکړ . خوداځل ئي دافراطي کمونستانو ترفشار لاندي نه بلکي دامریکائي امپریالیزم دمسلسل اصرارپه واسطه دخپلو دوستانو ساتني ته دخپل برباد شوي اقتصادي نظام ترڅنگ څنگ خپل تعاون ته دوام ورکړ . ښکاره ده چي ئي ته خوامریکا اوته روس غواړي په افغانستان کي مجاهدین یوه نظامي سویه ترلاسه اوهلته یوټینگ اومستحکم اسلامي حکومت جوړکړي . ځکه چي هغوي په بیابیا داپه ډاگه کړي چي هغوي دافغانستان په روان اسلامي انقلاب کي دافرادو په سطحه سرمایه گذاري کړي اوترڅوچي دهغوي دخوښي حکومت هلته نه وي جوړشوي هغوي به خپلو کوششونوته دوام ورکړي . همداعلت دي چي کله هم په افغانستان کي مجاهدین په نظامي عملیاتولاس پوري کوي نوته براځي داچي دهغوي تبلیغاتي دستگاوي دنظامي عملیاتوپه خلاف اومجاهدینو ته دکاذبو امیدونو دورکولو له پاره دزهرونه ډك پروپاگند کوي ، بلکي دخپلو خواخوږو په وسیله دوغوعملیاتو پرخلاف مایوس کونکي اعلانات هم کوي اوداپه دي خاطر چي دنظامي عملیاتو دپروسي پرمختگ وځنډوي اوافغان ولس ته داوښیي چي دافغانستان دمسئلي بوازینی دحل لیار" سیاسي لار " ده ، نه نظامي . حال داچي ددي جهاد د۱۳ کالو په اوږدوکي دروسي امپراتوري حلقي او په غرب کي دویره اچونکي سورپوځ کړي دلته دنظامي عملیاتوپه جریان کي ماتي شوي ان تردي چي دافغانستان داسلامي انقلاب په برکت دروسي استعمارلاندي اروپایي هیوادونو ازادي لاسته راوړه . کمونیزم له منځه ولاړ او ...

خوغربي استعماري ځواکونه اوس وائي چي مجاهدین نه شي کولي نظامي بري ترلاسه کړي اوپه دي ترتیب ځیني په اصطلاح رهبران هم دي ته هڅوي ترڅو دخپلومجاهدینو په خلاف داسي ناروا تبلیغات وکړي اودڅه ناڅیزه مادي امتیازاتو دلاسته راوړوپه خاطر غواړي دملت قرباني خرڅه اودمزدور رژیم دواکدارانو ترڅنگ دیو ائتلافي حکومت دجوړولو په خاطرکښیني .

دائتلافي حکومت دجوړولو له پاره هلي ځلي هغه وخت خپل اوج ته ورسیدي چي په مسکوکي دروسي دخارجه وزیر بوریس پنکین اودامریکا دخارجه وزارت دسکرتر جیمزبیکر لخوا دسپتمبرپه دولسمه دنیگښیو سمتري ترعنوان لاندي یوترون په گډه اعلامیه کي اعلان شو . ددي ترون له مخي دواړه هیوادونه خپلو خپلو اړخونو ته د۱۹۹۲ کال دجنوري دمیاشتي دلمړي نیټي نه اخوا دوسلي ترسیل بندوي . په اعلامیه کي هغوي ددواړو اړخونو څخه غوښتي دي ترڅوپه خپلو منځوکي دملل متحد دسرمنشي دپیشنهاد سره سم کښیني اودمسئلي دحل له پاره قدم پورته کړي . په دي ترتیب امریکائیانو همغلته دروسانو داپیشنهاد ومانه چي گویا دکابل کمونست گوند ته ، چي اوس ئي خپل نوم تبدیل اودوطن پرگوند اوښتي ، د افغانستان په راتلونکي کي ځاي ورکړي دېلي خواته امریکایانو داهم قبوله کړي چي هغوي به ترخپله وسه کوشش کوي ترڅومجاهدین په نظامي توگه دکابل داواکدارانو دراڅملولو جوگه نشي .

که څه هم دروس او امریکا په دي گډه اعلامیه باندي دمجاهدینو مشرانو سخت عکس العمل وښوداودروسانو څخه ئي وغوښتل چي په کابل کي دلاس پوڅي رژیم څخه سمدستي لاس واخلي اوپري دي نږدي چي په روسي تباه کونکي وسلو دافغان مسلمان قوم وپنې نوري هم توي شي .

دلته دامریکا لخوا په خپل اړخ باندي دوسلو دترسیل بندول پخپله دخنداوړپه دي دي چي امریکایانو خپل کومکونه (دکوموحلقو سره ئي چي کول) دڅلورو دترون وروسته ځنډولي، فقط دیوڅه محدوداوحلقو سره او هغه هم داختلاف اوانشقاق دپیداکولو په خاطر ئي خپل کومك ته دوام ورکړي او اوس غواړي خپلي همداحلقي په کاروا‌چوي تر څودیوه داسي سیاسي حل له پاره لاره هواره کړي چي پخپله ددوي له پاره دقبول وړوي . بله داسي یوه مهره رامخته کړي چي دهغي په واسطه څه چي وغواړي عملي ئي کړي . دوقایعو جریان اوس پخپله دامهري بوپه بل پسي را په ډاگه کوي په نیویارك کي دمجاهدینو دیونیمچه هیئت سره دامریکا دخارجه دچارو وزیر بیکر اودروس دخارجه چارو دوزیربوریس پنکین لیدنو کتنو څه نوي حالات رامخته کړل هلته دخبرو پټ بهیر هرڅه چه و، خودمجاهدینو دهیئت دمشرانو درادیوئي مرکو اواخباري وینالة مخي روس اوامریکا په افغانستان کي دمجاهدینو اوکمونستانو دیوائتلافي حکومت دجوړولو پیشنهاد کړي په پیشنهاد کي ویل شوي چي دافغانستان دجمهوري ریاست کرسي به دمجاهدینو یومشرته ورکړل شي خوپه څنگ کي به ئي دنجیب درژیم صدراعظم فضل حق خالقیار دصدراعظم په توگه وټاکل شي . داخبره پخپله دملي نجات دجبهي دمشر حضرت مجددي صاحب له خواپه بیا بیا اعلان شوه اوهغه ان تردي پوري مخته ولاړچي خالقیار ته یې دښه مسلمان لقب ورکړ اوویې ویل هغه دخپل پلار په څیر کمونیست نه دي په خپله خالقیارهم کله چي دنیویارك څخه بیرته کابل ته دراتلوپه لار مسکوته ولاړ نوهلته ئي اعلان وکړ چي هغه به دیر ژر دمجاهدینو دپه اصطلاح معتدلو کسانو سره دیو ائتلافي حکومت دجوړښت په خاطر په ژنیوکي دافغانانو په هغه غونډه کي گډون وکړي چي ددي مقصد په خاطر دغربي هیوادونو اوتوروځایوڅخه دملل متحد ترسرپرستي لاندي جوړیږي دېلي خواته دلته دملي نجات دجبهي مشرهم همدا راز اعلان وکړ چي هغه به په ژنیوکي دافغانانوپه دي غونډه کي دگډون لپاره حتماً ورځي . هغه دمجاهدینو هغه مشران چي په جهاد باندي متکي دي اوغواړي دکابل رژیم دیوځي برغل له لاري له پښووغورځوي سخت انتقاد وکړ اوهغوي ئي جنگ غوښتونکي وبلل .

په عین وخت کي دملل متحد دسرمنشي دي کوئیارخوایوبل گرم اعلان داکتوبر په ۲۲ مه په نیویارك په داسي وخت کي خپورشو چي دمجاهدینو دمشرانو اودپاکستان دحکومت دصدراعظم ترمنځ دلته په پاکستان کي گرمي خبري روانې وي .

په دي اعلامیه کي چي دملل متحد عمومي غونډي ته واورول شوه ویل شوي چي هغه ته داسي داډگیرنه ورکړل شوي چي ځیني داعتراض وړشخصیتونه به نه خوپه راتلونکو خبروکي او نه خوپه راتلونکي موقت حکومت کي په برخي اخستلو اصرارو‌کړي په دي اساس هغه خندچي په بین الافغاني خبرو اودیوائتلافي حکومت په جوړښت کي لیدل کیده له منځه ولاړ .

سیاسي مبصرین اودیپلوماتان وائي چي که څه هم دملل متحد دسرمنشي په بیان کي دکابل دړژیم دمشرنجیب نوم نه دي راغلي خوداسي معلومیږي چي داکترنجیب په خپله دملل متحد سرمنشي ته په دي هکله اطمینان ورکړي وي .

ښاغلي دي کوئیار وایي چي دافغانستان مسئله اوس په پوستربحراني حالت کي پرته ده داپهترین فرصت دي چي دمسئلي دحل له پاره یومثبت قدم واخستل شي .

دافغانستان دمسئلي دسیاسي حل له پاره خوهرڅوك دمثبت قدم داخستو کوشش کوي اوفکرته کوم چي مجاهدینو به دمثبت قدم دنه اخستو کوم مخالفت کړي وي امادمثبت قدم په اخستوکي توپیرشته . دښاغلي دي کوئیار اوتوروغربي اوروسي مفکرینو له نظره مثبت قدم دادي چي باید پس له ۱۳ کاله جهاد اوقربانیو وروسته بیرته دیو لاس پوڅي اوقاتل رژیم سره دمذاکري په میزمجاهدین کښیني اوتیرپه تیر اوهیرپه هیر دخبري په اساس بوائتلافي حکومت جوړکړي چي داپه هیڅ ترتیب اوهیڅ قیمت افغان ولس ته دمنلو ورنه دي دیه استشنادیو یادوه نورو ټولو جهادي مشرانو اوحتي ټولو نورو دجهاد خواخوږو داخبره په کلکه مستردکړي . برعکس دمجاهدینو لخوا په یوه معقول اومستدل اندازکي دسیاسي حل په لوردمثبت قدم داخستو له پاره چي کوم پیشنهاد شوي هغه دادي چي په افغانستان کي دکابل دلاس پوڅي رژیم پرځاي یوموقته داسي اداره جوړه شي چي نه خوپه کي دنجیب وله اوته دپخواني شاه ظاهرشاه پلویان گډون ولري . دداسي حکومت دجوړښت په هکله دمجاهدینو څخه باید مشوره واخستل شي اوددوي دخوښي په اساس افراد وټاکل شي . بل داچي داموقته اداره باید په یومعین اوټاکلي وخت کي انتخابات وکړي او اقتدار منتخب پارلمان ته انتقال کړي . اوبیا دا پارلمان حکومت جوړکړي .

اوس غټ مشکل دادي چي ځیني ولگي دانتخاباتو له نوم سره حساسیت لري په دي اساس کوشش ئي دادي چي دااوهغه قانع کړي ترڅو وکولاي شي چي په راتلونکي نظام کي دخپل حیثیت دخوندي ساتلو په غرض موږون اوبرابرځاي پیداکړي . همداعلت دي چي دنیویارك اومسکوته دهیئتونو په مشري ئي جاروجنجال رامنځ ته کړ . نیویارك اومسکوته دهیئتونو دلیږلو پریکړه د تهران په دري ارخیزکانفرانس کي شوي وه داکانفرانس په ۳۰ دجولاي پاي ته ورسید اوپه کي دایران او پاکستان خارجه وزیرانو اودمجاهدینو یونیمچه هیئت گډون درلود، هلته دا پریکړه هم شوي وه چي نیویارك اوروس ته به هیئتونه کومو مشرانو له خوا ورل کیږي . خومتاسفانه چي دتهران دکانفرانس پریکړي دټولو مجاهدینو درضایت نه پرته وشوي اونتیجه ئي هم دناکامي اومایوسیت نه پرته نوره څه نه وه که څه هم نیویارك ته دهیئت مشري دپیرافندي گیلاني پرځاي پخپله پروفیسور مجددي صاحب وکړه خو محترم مجددي صاحب هلته په خپلو خبرو اوترونونو کي دعین مشکل سره مخ شو لکه څنگه چي هغه د ۱۹۸۹ کال دفبروري میاشتي کي په مشورتي شوري کي دایران داوسیدونکي شیعه مجاهدینو دگډون په خاطر دایران دحکومت سره دترون نه وروسته مخ شوي ؤ ځکه هغه څه چي مجددي صاحب هلته کړي وو اوهغه ئي چي په نیویارك کي وکړل ټول دلته په گډه دموثروجهادي تنظیمونو لخوایه قوي الفاظو مسترد شول .

دوام لري

نجیب - کوئیار - تامسن دري خولي یوه خبره

شاهپور افغان — دوهمه برخه

کړي وو ؟؟

بله ستونزه دا هم ده چي د ښاغلي کوئیار دوړاندیز په اساس د انتقالي میکانیزم چلوونکي حکومتي اداره به څه ډول بڼه او ماهیت لري ؟ په دي هکله دهر افغان سره دا لاندي پوښتني پیدا کیږي ؟

الف : آیا دا اداره به ډوله د مجاهدینو نه جوړیږي؟

ب : که نه ، په دي اداره کښي به د نجیب دوطن د گوند غړي برلاسي وي او که داسي وي نو دا به دوطن دگوند کوم غړي وي ؟ څرگند کمونیستان ؟

او کنه هغه غیر کمونیستان چي پټ ماهیت بې له K.G.B پرته بل هیڅ چاته څرگند نه دي ؟

ج : ایا دا اداره به د مجاهدینو د ډلو اودوطن د گوند له خوا په گډه جوړیږي؟

د : کنه ،بې پري ،اوبي طرفه عناصربه بې جوړوي ؟

په پورتنیو پوښتنو کښي هره پوښتنه بولي ضمني پوښتني هم لري د مثال په ډول ؛

دالف جز یا الف برخگي په هکله پوښتني دادي چي کوم مجاهدین به په انتقالي میکانیزم کښي څومره برخه اوونډه لري ؟

د ب برخگي یا(ب) جز سره تړلي پوښتنه داده چي که چیرته په انتقالي میکانیزم کښي دنجیب گوندي اوحکومتي عناصر بیا هم برلاسي یا راگډ شول نود کمونیزم د ماتولو دپاره ددومره اوږده جهاد اولکونو قربانیو ارزښت په څه کښي واو گټه بې څه شوه ؟ ولي که چیرته انتقالي اداره د (ج)برخه کي سره سم د مجاهدینو دډلو او دوطن دگوند له خوا په گډه جوړیږي نو بیا په یوه داسي اداره کښي به دوئیو فیصدي څه وي ؟؟ څوك به بې ټاکي او څنگه به بې ټاکي ؟؟

البته که داو وابو چي نه انتقالي اداره په پورتنیو بڼو کښي په یوه بڼه هم نه شي جوړیدي ، او بنایې دا د(د) جز په اساس دبیطرفو اوبې پري عناصرو نه جوړه شي نو بیا پوښتنه داده چي بیطرفه او بې پري عناصر یعني څوك ؟؟ په افغانستان کښي د اولسي پاڅون او روان جهاد نه وروسته دعوامود سیاسي شعور ځمکه اسمان ته رسیدلي . دملت بچي بچي په اتومي تکنالوجي د سمبالي ایدیالوجي سره د جگړي او سیاست په ډگرکښي ډغري وهلي او د اولس سیاسي شعور ترهغي ډیر پرخ

،اوپالقه شوي چي ښاغلي کوئیار یا دده لویدیځ ، او ختیځ پالو تکي بې گټي اوس په افغان اولس کښي بیطرفي عملا ختمه شوي ، او هر څوك د یوه څرگند سیاسي نظر د لیکو سره سم ځان له لاره ټاکي نو په داسي اولس کښي هیڅ څوك بیطرفه نشته، ولي که دلته دبي طرفي مقصد دهغو عناصرو دپاره لار او اړول وي چي د مجاهدینو ، او یا دکابل رژیم دطرف په ځاي درټل شوي پلواك ظاهر خان په طرف ولاړ دي او ددوي په لاسونو د انتقالي دوري دمیکانیزم د چلوونکي اداري د چلو لو د پاره کارکیږي نو دا سوالونه به دسیاسي رسوایوسره سره عملي ستونزي او تاریخي تاوانونه هم لري دا به هم نه هیروو چي د پخواني پاچا ملگري بیطرفه نه دي ځکه چي دوي یو څرگند طرف لري ... د رټلي پخواني پلواك دبیاراوستلو ترپلولوبه ستونزه داده چي د مجاهدینو ستري منظمي متوري او پیاوړي ډلي دده د راتللو سره کلك مخالفت کوي، دامخالفت دذاتي گټو اوغرضونو نه ډیرلوړبه دي اصل ولاړ دي چي دظاهر خان شړېدلي اداره او دهغه بې کفایته حکومتي سیستم د افغانستان د اوسني ویجاړ حالت مسئول او ذمه واردي.

په دي لړ کښي بله عملي ستونزه داده چي د کابل رژیم هم هیڅ کله د روسي پوځونو په زور ترلاسه اقتدار دزرو په تالي کښي ظاهرخان او دهغه پلویانو ته وړاندي کول نه غواړي د کابل په رژیم کښي دیوه لاس نه بل ته د سیاسي اقتدار دبدلیدلو دودهرچاته معلوم دي، په دي دود کښي به امین دترکي په خوله بالښت ږدي او اقتدار به تري اخلي ببرك به په روسي پوځیانوامین وژني ، او سرورو‌سیانو ته به د افغانستان د خپلواکي د گاټه کولو په بدل د شرمیدلي واك گدي ته خیژي او نجیب به هله اقتدار تر لاسه کوي چي ببرك دعصبي ناروغه او لیوني په نوم ماسکو ته وزغلوي .

دا چي نجیب کله ناکله ظاهر خان ته سترگي وهي او په خپل حکومت کښي ورته درول اداکولو گونگي بلني ورکوي نو دا ددي دپاره دي چي درټلي ظاهر خان دملگرولویدیځوالواکونو - په زړه کښي ځان له دهمدردي او خواخوږي څنده پیدا کړي له بلي خوا نجیب په دي ډول د پروپاگندي او پیسوټکو په زور د افغانانو

په منځ کښي د دزغورځولو پلیڼۀ هڅه هم کوي . خوتردي ټولو خبرو لويه خبره داده چي نجیب او د وطن گوند دظاهرخان تیر چاپیره راټول شوي یو مخي زاړه مامورین چي زاړه هڅونه بې دملت دغوښو ،وینواوزوو نه جوړ شوي او زاړه مازغه بې د هیڅ جمهوري فکر نوي ځرك نه لري ، ډیر سوکه په خپلو منظمو حکومتي او گوندي ،تشکیلاتوکښي ورکولي شي له دي امله رټلي پاچا ته دنجیب‌بلني‌دامعني نه لري چي گني هغه د اقتدار وینځه د روم دلوړو ماڼیو په چټو کښي د پرانه ظاهر خان انگړ له لیږل غواړي . بلکي نجیب د مجاهدینو د پیاوړو او منظمو گوندو نو په پرتله د زړوماموریتو لټقاري ډلي ته ځکه خوشحالیږي چي داماموریتن د کمونیزم د اولس خوري نظام د ځپلود غوځولوبه ځاي د خپلو ریاستونو ،سفارتونو ، مدیریتونو اوماموریتونو جنون راخیستي او ددوي دهوسونو تنگي خولي چي په کومو ټمړو ډکیږي نو هغه د نجیب د رژیم سره کمي نه دي .

اوس که د بیطرفو کسانو په نوم د یو څو پاچا پلوو له خوا د انتقالي حکومت د جوړولو په لار کښي د پرتو عملي خنډونو خبره پرېږدو او د دي خطرناکي لوبي ټولنیز و او سیاسي تاوانونوته وگورو اود اوگټو چي کلونو ، کلونو ، دمنظموجهادي ، او سیاسي گوندو نو ، دشعوري روزني په غیږ کښي لوي شوي سیاسي فاعلین او غړي دي حتي دانتقالي دوري په اداره کښي هم نه وي شامل او دا ، اداره دي هغه عناصر وچلوي چي په کلونو کلونو بې داولس سره هیڅ ډول اړیکي نه دي ساتلي نو داپه لوي لاس دافغان ولس‌دسیاسي شعور د ننه وري وني دوهلو تاریخي چارو کښي د سیاسي گوندونو ، دوجود نه داسي انکار کیدلي شي اود ا انکار د ولسونو ، د گټو متضمن وي ، نو بیا ولي په لویدیځو هیوادونو ، اوامریکاکښي دسیاسي گوندونو په ځاي بې طرفه بې گونده ، او بې سیاسي مخ مو ني عناصر د حکومتونو چلولو ، اومشریوته نه ور وړاندي کیږي ؟

هیله ده چي ښاغلي کوئیار دخپل وړاندیز ددریمي مادي په الف برخه کښي په دي کرښو نظر وغورځوي چي : ترایمڅ

" په هغه دوره کښي انتقالي ترتیباتو ، او اړدونو ته اړتیا ده داسي ترتیباتچي دافغان اولس پراخ اکثریت ته دمنلو وړ وي چي په کښي به دیوي معتبري ،او بیطرفي انتقالي اداري جوړول هم شامل وي.

نو د بیطرفي ،او ویساوړ معتبري انتقالي اداري ټکوته دوارسیدلو سره سم به د هغو ټولو دلایلو معقول ځواب هم ولري چي موئړ وړاندي په دي لیکنه کښي یادکړل.

پښتانه وایي (پرمې کړه مرمي کړه)

ولي که ښاغلي کوئیار او دده دوړاندیزو نو ملگري ،داچي اکثرو بې د وړاندیزونو ،د تشو لوستلو پرته ددي وړاندیزو نو په ملاتړ کښي په چیغو سورو ستوني وشلول وایي چي نه . د افغانستان د اوسنیو ځانگړو حالاتو ، او اوضاعو له مخي په کار ده چي یو څو تش په نامه بې پلوي ،او بیطرفه عناصر دي د انتقالي حکومت اداره تر لاسه کړي نو بیا ملگري ملتونه ،امریکا ،فرانسه او نور لویدیځ هیوادونه اخیر څه له په کمبودیا کښي دیوي داسي گټ گوندیزي لوري شورا جوړول غواړي چي ټول گوندونه په کښي د څومره جشي هومره حصي د فارمو لي ، او کلیې سره سم غونډیدلي ، او شاملیدلي شي ، او آیا په خپله لویدیځو مطبوعاتو اوراډیو گانو په بیا بیا د کمبودیا وضع د افغانستان حالاتوته ورته نه ده بللي . دا به هم نه هیروو چي په کمبودیا کښي راغونډو شوي څلورو اړه غټ گوندو نه ددي دپاره په یوه دریځ نه دي راټول شوي چي پخواني شهزاده سهانوك دي دپاچاهي دپاره راولي .

که څه هم سهانوك دخپل ملت دازادي دوسلوالي مبارزي یوقهرمان مشهودي داسي نه لکه ظاهرخان چي تاج وتخت ورته داستعمار دخدمتونو په صله کښي په‌وراثت پاتي شوي وو، او هاغه هم ورته بوځوکمیونستیانو دسترگي په رپ کښي واخیستل . بلکي کمبودیا ته دیوي جمهوري اداري دورکولو د پاره داکار شوي او که په کمبودیا کښي د اولس دخوښي سره سم دیوه جمهوري نظام دپاره کارگناه نه وي - نو په افغانستان کښي دافغان ولس دټولو قربانیو سره سره د یوه

اسلامي جمهوریت او مومني دموکراسي ارزو ، او غوښتنه ولي گناه ده؟!

موږ نه پوهیږو چي زموږلویدیځ خواخوږي د کوم تاریتوب او مروت دود پالي چي د کمونیزم د گڼ دښمن د ماتولو په بدل کښي راته دمنځنیو پیړیو ،او قرون وسطي په شان دیوي کیږي زوړ واکي اوشاهي نظام راکوي ؟ ولي که داسي نه وي ،اولویدیځوال ، امریکا ،او شوروي په گډه غواړي چي یو وار بیا زموږ دسیاسي ودي په مخ مو نه دخپلو غرضونو مفادو ، او گټو توري ختي راوتپي او زموږ ولس دا چي روانې جگړي سل کاله په شاکړي دیوه رټلي ،اوبې کفایته پاچا په بیا راوستلوځو پیږي نور هم په شا ټیل وهي نو داداافغانستان د وجود ،او تاریخ دواړو سره یو نه بخښونکي خیانت دي ظاهرشاه چي څلویښت کلنه پاچاهي تري په څلویښتو دقیقو کښي څلویښتو کسو سرو کمونیستانو په څلورو ټانکونو واخیسته اوځلور پوزي بري هم سري نه شوي څنگه کولي شي چي ننني افغانستان اواره کړي؟!

اوس خو دافغانستان دهري تیږي بیخ ته ماینونه او بمونه یادجنگ او کمونیزم د سرو بلاگانو شاربلي هگي پرتي دي.

اوس خو دهیواد هره مورچله د شیلو ،او ټانگونو هدیره ده اوس زموني هره کوڅه مجاهده ،هره پیغله د پت اوعفت د ستر انقلاب محکښي هر بچي داسلام ،او آزادي شیدائي هر ځوان د یوي مومني ،اولسواکي په آیډیال سمبال او دجهاد زړور قیادت مو دتاریخ اتله ،او قهرمانه خبره ده ،اوسني افغانستان بواځي هغه مجاهد ځواکونه کرارولي شي ،او له ټوك ټوك کیدلو نه ژغورلي شي چي منظم او پیاوړي وجود لري ، او گوندي تنوبې دخپل خپلي ،او قام‌توکم له ویشه پره ، داولس په زړونو کښي خپلي زغلولي دي.

راځي دا خبره په ستله وڅو چي که افغانستان د واك په گدي یو وار بیا رټلي ټواك ظاهر خان کیناست هغه ظاهر خان چي د کمونیزم دخونړي نظام راوستلو کښي بې اداري کمزوري او فساد دروس د جاسوسي سازمان K.G.B په شان پخه ونډه لرله تو وگټي چي دملت د سیاسي شعور راټوکیدلي ته د استبداد زور گور ته کوزه شوه او نه بواځي دا چي افغانستان د جمهوریت اواولسواکي له عصري نظام نه دټولو اکي زوړ ، اومرگوني نظام ته ستون شو. دوام لري

ساختار رواني واجتماعي جوانان

ترجمه : اثير

مقدمه

همه كشور ها به اجزاي سرمايه بشري وموارد آن به خاطرنمو ودرخشش توانايي خويش اهتمام داشته وبراي تقويت قواي بشري خود وسايل متعدد را استخدام كرده اند بنابراين مي بايد به قشر جوان كه مصدر اساسي نهضت امت وآرزوهاي آن مي باشد اهتمام بيشتر صورت بگيرد.

جوانان يك ملت آينه صاف وصادق هستند كه واقعيت آن ملت واندازه نهضت وتقدم و دليل معتمد كه از آينده آن ملت خبرمي دهد ، درآن انعكاس مي يابد . يكي از پيشوايان درزمينه مي فرمايد.

جوانان شاهرگ بدن امت و مرجع آرزوهاي آن بوده وآينده امت تحت قيادت آنان قرار دارد.

اگر در امرتربيت آنها توجه كه لايق شان ايشانست مبذول نگردد و اينان بر اساس فضيلت و تمسك به قواعد دين قوام نيابند هرآنچه كه انجام يافته باطل وهر بنايي را كه آبا دشده نابود مي نمايند. بنابراين تفكربراي توجيه عملي ودرست جوانان كه بتوانند بار زندگي خوب را بردارند كم ارزش تر از تفكر درموردبك موسسه بزرگ اقتصادي كه ملت را از فلاكت فقروبيچارگي نجات دهد نيست . يك نسل جوان قوي وصالح چيز يست كه ملت ما ضمانت وصيانت آينده خويش را درآن مي يابند.

تعيين مرحله جواني

درنخستين توصيه ايكه نخستين كنفرانس وزراي جوانان كشور هاي عربي كه از ٤- ٨- اكتوبر ۱۹٦۹ درقاهره داثر شده بود به اين امر اتفاق شد كه مفهوم جوانان به آنعده اطلاق ميگردد كه عمرشان بين سنين ۱۵تا ۲۵ سال قرار دارد اين تعريف با مفهوم تعريف بين المللي جوانان موافقت دارد.

مرحله جواني قسمت بيشتر عمر را در برميگيرد چون آغاز آن قسمتي از دوران نوباوه بودن وپايان آن حصه بيشتر مرحله رشد را احتوا مي كند ومي بايد رعايت زياد تري برآن مبذول گردد.

تحديد درست زمان جواني عبارت ازمدت است كه فرد ازمرحله طفوليت تامرحله رشد مي گذراند. درخلال اين مدت رشد جسمي - عقلي وانفعالي واجتماعي او تكميل مي شود ، واين مدت از ظهور علامات اولي وثانوي بلوغ آغاز وتازمان ازدواج وتحمل مسوليتهاي همچو فرد رشد يافته ادامه مي يابد ،علي رغم اختلافات فردي وثقافتي كه درتعيين مدت آغاز وانجام جواني تاثيردارد ميتوانيم اين مرحله رابين سنين ۱۵ تا ۲۵ بادرنظرداشت اكثريت آنهاي كه سيرطبيعي نموتعليم شان را مي پيمايند معين نمايم.

حسب آنچه كه در تعيين دوران جواني اشاره شد دوره هاي دانش آموزي ودانش جويي يعني از دوره متوسط تا دوره دانشگاه ،شاگرد ومحصل ،همه جوان پنداشته ميشوند مي بايد ازخدمات كه براي رعايت حال جوانان درنظرگرفته شده بهره مند گردند اين خدمات برعلاوه شاگردان ومحصلين كه مشغول كسب دانش درين مرحله هستند شامل حال تمام جوانان ميشود كه همين سن وسال را دارند

